

پروفیسور عبدالله بختانی «خدمتګار»

د نشر نیټه : 26 فبروری 2016 م

د سولې او تفاهم دلیاړي مبلغ
دوکتور سعید افغانی



دوکتور محمد سعید « سعید افغانی » زمونږ د هیواد مشهور عالم ، لیکوال ، مولف، استاد او اجتماعي شخصیت و چه تل یی د سولی ، ترقی ، وروری ، برابری او تفاهم لپاره مبارزه کوله، د دی نومیالی پوه دروند نوم هم په وطن کښی او هم د نړی په نورو هیوادونو کښی خپور او مشهور دی .

په دوکتور سعيد افغاني باندی، د هغه د ژوندانه کلونه ، په لوستلو ، تدريس کولو ، ليکلو ، تاليف ، موعظو او خطابو تير شو، هغه به دسولي ، امنيت ، تفاهم، دوستي ، وروري ، برابري ، اجتماعي عدالت او انساني کرامت لپاره په دم ، قدم او قلم مبارزه کوله .

دی پسی و چه د هيواد ملايان ، د علم طالبان او نورو خلک د نوی ژوندانه په مترقي لارو چارو پوه او منور ځوانان او روښانفکره زلميان د دين له مبادیو سره آشنا شي او د ملی فرهنگ او ديني اخلاقو رعايت وکړی .

هغه يو ملي ، مترقي ، مذهبي شخصيت و چه تل د خلکو او اولس د ضرورت غوښتنو د ملاتړ په ليکو کښی دريدلي دی . په زلميتوب کښی يی د ويښ زلميانو له هدفونو څخه روحيه اخستی او دهغو ننګه يی کړی ده . په سفر کښی يی د خپل هيواد تاريخي او فرهنګي ويارنی نورو اولسونو ته معرفي کړی دی .

د ژوندانه د پو خوالي په عمر يی د هيواد د خلکو د ملی دموکراتيک غور زنګ ملاتړ کړی دی او د دين د حقيقتونو د ځرګندولو په ذريعه يی هغه ارتجاعي دسيسي افشا ء او شنډی کړی چه زمونږ د خلکو ، وطن او نهضت په ضد وی .

د ژوند د پای په کلونو کښی يی د سراسری سولي او امنيت او ملي روغي جوړي د تامين لپاره يی هڅه کوله ، په هيواد او نړی کښی يی سوله او تفاهم غوښت او کاريی ورته کاوه .

دغه قطعه ما ليکی ده او د دوکتور سعيد افغاني د شناختی د مرمرو په ډبره کنيدل شوی ده :

په لـوستلو ، لـو لـو لـو او ليکـلـو
د پـوهنـی د ډ يـو ی لانـدی کـارونـه
فضـيلت او شـرافـته سره تـير شـول
په(دوکتورسعيد افغاني) دری شپيته کلونه

« دوکتور سعيد افغانی » د ابجد په حساب « ۱۹۲۲» کيږی ، چه دا د نومورِی د تولد ميلادي کال دی . هغه « دری شپيته کلونه » ژوند تير کړي دي چه د اسلام د پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و سلم د ژوندانه له کلونو سره برابر دی .

چه پر « ۱۹۲۲ » باندی « ۶۳ » واچوو بيا نو « ۱۹۸۵ » تري جوړيږي او دايي د وفات ميلادي کال دی .

خدای دی يی وبخښي

عبدالله بختاني « خدمتګار »
خيرخانه مينه ـ کابل

بازگشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org